# پهٔ خَتمِ دورِ رسالت باندې ډېر

# ډېر سلامونه

## د اجتماعِ میلاد 1447ھ بیان

(For Islamic Brothers)



د اجتماع ميلاد 1447ھ بيان

(5 ستمبر کال 2025ء/ د ربيع الاوّل دولسمه شپه، د جُمعې او د هفتې ترمينځه شپه)

# پۀ خَتم دورِ رسالت باندې ډېر ډېر سلامونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---اِجتماع وکړئ---!! خوشحالي وکړئ---!!!
- ---د ختمِ نبوت د عقيدې اهميت
- --- د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت جامعيت
- --- پۀ اُمت باندې د نبي حقونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ      وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ      وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: چې کله تاسو پهٔ خوږ مکي مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود لولئ نو پهٔ ښهٔ انداز کښې، پهٔ بهترينو الفاظو سره يې لولئ! تاسو څهٔ خبر يئ ممکن ده چې هم دغه درود شريف د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دربار کښې پيش کړے شي-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ دې روايت کښې د ښو نه پهٔ ښو الفاظوسره د درود شريف د لوستلو حکم راکړے شوے دے، هغه ښهٔ الفاظ به څهٔ وي--؟؟ فرمائي: (چې کله درود لولئ نو) داسې درود لولئ!

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ صَلَاتَكَ وَرَحْمَتَكَ وَبَرَكَاتَكَ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَاِمَامِ الْمُتَّقِيْنَ وَخَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! د ټولو رسولانو پهٔ سردار، د تقوىٰ دارو پهٔ اِمام، د ټولونه اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې خپل درودونه، رحمتونه او برکتونه نازل کړې-(2)

مصطفٰی جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام | شمعِ بزمِ ہدایت پہ لاکھوں سلام

---

[1]... القول البديع، صفحه:57۔

[2]... القول البديع، صفحه:57۔

| | |
|---|---|
| شہریارِ اِرَم تاجدارِ حرم | نَوبہارِ شفاعت پہ لاکھوں سلام |
| فتحِ بابِ نُبوّت پہ بے حد درود | ختمِ دورِ رسالت پہ لاکھوں سلام (1) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښینم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بڅپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## رسولان خو هُم د هغوئي د زیري ورکولو د پاره راغلي دي

**پهٔ روایتونو کښې دي** چې یو ځل د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام خپل 12 **حواریان** راوبلل۔

**نوټ:** هُغه خلق کومو چې د ایمان پهٔ حالت کښې د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام صحبت بیاموندو، هغوئي ته **حواریان** وئیلے شي۔

حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام 12 **حواریان** راوغوښتل، د خپل نبوت پهٔ فیضان باندې یې هغوئي ته د پیریانو د قابو کولو او مریضانو ته د شفا ورکولو طاقت عطا کړو۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام صرف بڅپله مشکل کُشا نهٔ وي بلکې چا ته چې د کرم نظر وکړي، هغوئي هم مشکل کُشا، حاجت روا جوړوي۔

1...حدائقِ بخشش، صفحه:296295 ملتقطاً۔

2...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

خير! حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام خپلو **حوَّاريانو** ته دوه طاقتونه عطا کړل (1): د پيريانو د قابو کولو طاقت (2): مريضانو ته د شفا ورکولو طاقت۔

دا 12 **حواريان** وو، د دوئي سره هغوئي 70 **حواريان** نور مقرر کړل، بيا دوئي ټول 82 کسان شول۔ بيا د دې 82 کسانو چې کومه ډيوټي هغوئي ولګوله، هغه ډيره د کمال وه۔ اوئې فرمائيل: هر يو ښار ته لاړ شئ! کلي کلي ته ورسئ! که د کوم ښار والو، ياد کوم کلي والو تاسو ته پۀ ښه طريقه هر کلے ووائي، تاسو له خوراک درکړي نو اوئې خورئ! که نۀ يې درکوي نو د ښارونو پۀ کوڅو، لارو کښې اوسئ، چې کوم بيماران ميلاؤيږي، هغوئي له شِفا ورکوئ! که ښارونو والا تاسو قبلوي او که نۀ، پۀ هر ښار کښې به تاسو يو اعلان کوئ، ټولو خلقو ته به وايئ چې: قَدِاقْتَرَبَ مَلَكُوْتُ السَّمَاوَاتِ بے شکه د اسمانونو د بادشاه (يعنې د ټولو جهانونو د شهنشاه راتلل) رانزدې شوي دي۔[(1)]

| | |
|---|---|
| یہ کس شہنشاہِ والا کی آمد آمد ہے | یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے |
| یہ آج کاہے کی شادِی ہے عرش کیوں جُھوما | لبِ زمیں کو لبِ آسماں کنے کیوں چوما |
| یہ آج تارے زمیں کی طرف ہیں کیوں مائل | یہ آسمان سے پیہم ہے نُور کیوں نازِل |
| فرشتے آج جو دھومیں مچانے آئے ہیں | اِنہی کے آنے کی شادِی رچانے آئے ہیں |
| رُسُل انہی کا تو مژدہ سُنانے آئے ہیں | اِنہی کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں |
| یہ کس شہنشاہِ والا کی آمد آمد ہے | یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے[(2)] |

## د لوئي رحمت د حاصليدو شپه

**پۀ روايت کښې دي**: يو ځل د نيمې شپې وخت وو، د اللّٰه پاک د نبي حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام **حواريانو** (يعنې پۀ هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ايمان راوړونکو خوش نصيبو) نمونځ ادا کړو، بيا

---

1…حجةُ الله على العالمين، المبحث الرابع…الخ، القسم الاوّل…الخ، الباب الاوّل…الخ، صفحه:74بتقدم و تأخر۔

2…سامانِ بخشش، صفحه:135 و 137 ملتقطاً۔

د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلام نه ګېر چاپېره راجمع شول- دا یوه ښکلې شپه وه، عجیبه شپه وه، هغه کومه شپه وه؟ بڅپله یې د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلام د فرمان نه واورئ!

هغوئي عَلَیْہِ السَّلام خپلو **حواریانو** ته اوفرمائیل: نن هٰغه شپه ده کومه به چې د مسیحا رسول (یعني مُحَمّد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم) په زمانه کښې هر کال د جشن په توګه نمانځلے کیږي، ځکه زۀ نه غواړم چې نن مونږه اُوده شو بلکې نن به مونږه د خپل **ربِّ** کریم په حضور کښې **100** رکعته نمونځ ادا کوو، د خپل **رب** په حضور کښې به سجده کوو- نور یې اوفرمائیل: مونږ له د **اللّٰہ** پاک شکر ادا کول پکار دي چې هغۀ مونږ ته په دې شپه کښې یو لوئي نعمت راکړے دے-(1)

سُبْحٰنَ اللّٰہ! **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** څومره اوچت شان دے د **اللّٰہ** پاک د نبیانو...!! حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلام هٰغه د شان والا نبي دے، چې د هغوئي عَلَیْہِ السَّلام د علمِ غیب د معجزې په جدا توګه په قرآنِ کریم کښې ذکر راغلے دے او د هغوئي عَلَیْہِ السَّلام د علمِ غیب شان اوګورئ، دا زرګاؤ کالونه پخوانئ خبره ده، چې حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلام د **اللّٰہ** پاک په عطا سره، د علمِ غیب په طاقت سره په هٰغه وخت کښې هُم د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم د اُمّت دا انداز لیدو، د عشق رنګونه یې لیدل، هغوئي ته معلومه وه چې د ولادتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم شپه هٰغه عظیمه شپه ده چې امتِ مصطفٰی به د دې شپې قدر پیژني، د خپل آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم سره به د کمال درجې عشق لري او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم د ولادت شپه به هر کال د جشن په توګه نمانځي-

| | |
|---|---|
| نہ کیوں آج جھومیں کہ سرکار آئے | خدا کی خدائی کے مُختار آئے |
| نہ کیوں بارہویں پر ہمیں پیار آئے | کہ آئے اِسی روز سرکار آئے |
| وہ آئے دو عالم کے مختار آئے | لو آج آئے امّت کے غمخوار آئے(2) |

1...انبیائے سابقین اور بشارتِ سید المرسلین، صفحہ:45۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:499۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو**! دلته په يوه بله خبره غور اوکړئ! حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د محبُوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو زيرے اوړولو د پاره راغلے وو، هغوئي په دې پوهيدل چې زما نه پس به صرف او صرف احمد نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي، لکه څنګه چې الله پاک په قرآن کريم کښې فرمائي:

**وَ اِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ مُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ** ؕ (پاره:28، سورهٔ صف:6)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او ياد کړه چې کله عيسیٰ بِن مريم اُوفرمائيل: اے بني اسرائيلو! زهٔ ستاسو طرف ته د **الله** رسول يم، د خپل ځان نه مخکښيني کتاب تورات تصديق کوونکے يم او د هُغه عظيم رسول زيرے درکوونکے يم کوم به چې زما نه پس تشريف راوړي، د هغوئي نوم احـمد دے

هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ته دا هُم معلومه وه چې د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ولادت به کله کيږي، هغوئي به په کومه شپه دنيا ته تشريف راوړي، حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم لا دنيا ته تشريف نه وو راوړے، د دې نه زرګونه کاله مخکښې، عين د ولادتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په شپه ګويا چې د جشنِ ميلادِ مصطفٰی محفل جوړ وو او مبارک انداز ځومره عظيم وو چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خپلو **حواريانو** ته د دې شپې د شکر ادا کولو حکم هم ورکړو او ويې فرمائيل چې نن به مونږه د ميلادِ مصطفٰی په شکرانه کښې چې هغه به خلق په راتلونکو پيړو کښې مناوهي، د هغې پهٔ شکرانه کښې به 100 رکعته نمونځ ادا کوو-

رُسل انہیں کا تو مژدہ سنانے آئے ہیں | انہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں
فرشتے آج جو دُھومیں مچانے آئے ہیں | انہیں کے آنے کی شادی رَچانے آئے ہیں (1)

---

1...سامانِ بخشش، صفحه:137۔

*-*-*-*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سرکار | کی | آمد! مرحبا! | سردار | کی | آمد! مرحبا! |
| اچھّے | کی | آمد! مرحبا! | سچّے | کی | آمد! مرحبا! |
| حُضُور | کی | آمد! مرحبا! | پُرنور | کی | آمد! مرحبا! |

## د چا ذِکر چې نبيان کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** سُبْحٰنَ الله! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره ځانګړے شان دے، خومره اوچته مرتبه يـې ده چې د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ شان د اوچتې مرتبې والا نبي عَلَيْهِ السَّلَام د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو اعلانونه کوي۔

تَصَدُّق ایسی رِفعت پر کہ برسوں قَبل دُنیا میں | سُناتے آئے ہیں مُژدہ حضرت عیسیٰ مُحَمَّد کا

نهٔ صرف په دې دنيا کښې بلکې د قيامت په ورځ به هم حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذکرِ خير کوي، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته به خلق ليږي، په روايت کښې دي چې د قيامت په ورځ به د هغې د آفتونو، ويرې او مصيبتونو نه خلق سخت تنګ شي نو د کوم شفاعت کوونکي په لټون کښې به اوځي ۞ پهٔ لټولو لټولو به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلام ۞ بيا حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلام، ۞ د هغه ځائے نه حضرت ابراهيم خليل الله عَلَيْهِ السَّلام ۞ بيا به د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلام په خدمت کښې حاضر شي، [ټول به] ارشاد فرمائي: **نَفْسِی نَفْسِی، اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ** [يعنې تاسو د بل چا طرف ته لاړ شئ] ۞ آخر به د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلام پهٔ خدمت کښې حاضر شي، د هغه ځائے نه به هم دا جواب ورکړے شي۔ بيا به حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائي: **اِذْهَبُوْا اِلٰی مُحَمَّدٍ** يعنې اوس بل چرته د تلو ضرورت نشته، اوس تاسو ټول د آخري نبي، محمد عربي په دربار کښې حاضر شئ۔(1)

---

1...مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الفضائل، باب ما اعطی...الخ، جلد:7، صفحه:415، حدیث:36ملخصاً۔

فقط اتنا سبب ہے، انعقادِ بزمِ محشر کا | کہ اُن کی شانِ محبوبی دکھائی جانے والی ہے[1]

## رسولان خو د هغوئي د زيري ورکولو د پاره راغلي دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا صرف حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نۀ دے، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پورې چې څومره انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام تشريف راوړلے دے، ټولو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو اعلانونه کړي دي- پۀ قرآنِ کريم کښې دي چې الله پاک پۀ عالَمِ اَرواح کښې (يعني د دې دُنيا نه مخکښې يو جهان دے، چرته چې رُوحونه وي، پۀ هُغه جهان کښې) يــې هُغه ټول راجمع کړل، چا ته چې د نبوت تاج پۀ سر کول وو، بيا يــې د هغوئي نه وعده واخستله، هُغه وعده څۀ وه؟ الله پاک هغه پۀ دريمه سيپاره، سورۀ آلِ عمران، آيت نمبر: 81 کښې بيان کړه- فرمائي: زۀ به تاسو ټولو ته د نبوت تاج عطا کووم، کتاب او حکمت به تاسو ته عطا کولے شي، بيا

ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** بيا به تاسو له هُغه د عظمت والا رسول تشريف راوړي چې هغه به ستاسو د کتابونو تصديق کوونکے وي-

يعنې پۀ دغه وخت کښې چې کله ستاسو د نبوتونو دور روان وي، تاسو د خپل نبوت د نُور رڼاګاني پۀ دُنيا کښې خوروی، پۀ هُغه وخت کښې که زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي نو

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَ لَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** نو تاسو ضرور ضرور پۀ هغه ايمان راوړئ او ضرور ضرور د هغه مدد وکړئ-

---

1… ذوقِ نعت، صفحه:232۔

بیا تاسو ته زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه هم لوستل دي او د هغوئي خدمت هم کول دي۔

| | |
|---|---|
| قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَ اَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِیْ ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: (الله) وفرمائيل: (اے نبیانو!) آیا تاسو (د دې حکم) اقرار وکړو او پهٔ دې (اقرار) مو زما درَنه ذمه واري واخستله؟ |

نو ټولو انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام عرض وکړو:

| | |
|---|---|
| قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: مونږه اِقرار وکړو۔ |

اوس دلته یو سوال دے: الله پاک ته خو معلومه وه چې تر څو پورې دا انبیائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام پهٔ دُنیا کښې موجود وي نو تر هغې پورې به محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته تشریف نهٔ راوړي، د دې باوجود د هغوئي نه وعده ولې واخستے شوه چې که ستاسو د نبوت پهٔ دور کښې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړي نو تاسو به پهٔ هغوئي باندې ایمان راوړئ۔ دا خبره ټاکلے شوې وه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پهٔ ظاهري ژوند کښې تشریف نهٔ راوړي ، بیا دا وعده ولې واخستے شوه؟

جواب دا دے چې د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام نه وعده ځکه واخستے شوه چې د هغوئي زړونه هر وخت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو پهٔ انتظار کښې وي، هغوئي هر وخت بس خپلو اُمتونو ته هم دا وائي چې بس د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راتلل نزدې دي، اے خلقو! واورئ--!! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راتلل نزدې دي۔ دغه شان پهٔ هر دور کښې د خوږ مُحَمَّد عربي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو ډېر ډېر بیان کیدلو۔[1]

1...تفسیر نعیمی، پارہ:3، سورۂ آلِ عمران، زیرِ آیت:81، جلد:3، صفحہ:593 بتغیر۔

## اِجتماع وکړئ! خوشحالي وکړئ---!!

حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه تقریباً 1700 کاله مخکښې دُنیا ته تشریف راوړےوو، هُغه وخت حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام خپل قوم ته وفرمائیل: سَبِّحُوا الرَّبَّ تَسْبِیحًا جَدِیدًا اوس پهٔ یو نوي رنګ سره د الله پاک تسبیح بیان کړئ! سَبِّحُوْهُ فِیْ مَجْمَعِ الْاَبْرَارِ د نیکانو خلقو اِجتماع جوړه کړئ! پهٔ هُغه اِجتماعاتو کښې د الله پاک پاکي بیان کړئ!

نور یې وفرمائیل: پکار دي چې بني اسرائیل خوشحالي وکړي، مخونو تر او تازه کړي او د خوشحالو اظهار کوي ځکه چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور ډېر زر ځلیدونکے دے۔(1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې

رُسُل اِنہی کا تو مُژدہ سُنانے آئے ہیں | اِنہی کے آنے کی شادِی رَچانے آئے ہیں (2)

## دا دے دخوشحالي وخت

خوږ و او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د چا د راتلو چرچې چې انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام کوي، د چا د راتللو پهٔ خوشحالي کولو چې د الله پاک انبیائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام خلقو له ترغیب ورکوي، هُغه محبوبِ رحمان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ د ګنهګارانو د ورانو د ودانولو د پاره اخري نبي جوړ شو او تشریف یې راوړلو۔

خالِق کُل اے رَبِّ عُلیٰ، شکر ترا کیونکر ہو ادا
ہم کو وہ محبُوب دیا رُتبہ جس کا سب سے سِوا(اونچا)

---

1…حجۃُ اللہ علی العالمین، المبحث الرابع…الخ، القسم الاوّل…الخ، الباب الاوّل…الخ، صفحه:71 ملخصاً۔
2…سامانِ بخشش، صفحه: 137۔

کیوں خاموش ہو اَہلِ صفا، ہے یہ وقت مسرت کا
یعنی آج ہوئے پیدا شاہِ ہُدیٰ محبوبِ خُدا
قاسِمِ نعمت آپہنچے، مالِکِ جنّت آپہنچے
والیٔ اُمّت آپہنچے، رَبّ کی رحمت آپہنچے
جن کی خلیل دُعا مانگیں، جن کی مسیح بشارت دیں
جن کی گواہی پتھر دیں، جن سے سب دُکھ درد کہیں
سالِکِ خستہ کی آقا، پُوری ہو ہر ایک دُعا
جو اِس محفل میں آیا، ہو اُس پر بھی فضل ترا
لاإلٰہَ اِلَّا اللهُ! آمنّا بِرَسُوْلِ اللهُ! (1)

## بختونه رابيدار شول د فرش والؤ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د الله پاک پهٔ کروړونو کرته شُکر دے، د هغهٔ ډير زيات فضل دے چې مونږ ته د 1500 کلن جشنِ ولادت دولسمه شپه راعطا کړے شوه- اَلْحَمْدُلِلّٰه!

❀ نن زمونږه د قِسمتونو د رابيداريدو شپه ده ❀ د موسم د بدليدو شپه ده ❀ د نُور راوريدو شپه ده ❀ د تيارو د لرې کيدو شپه ده- نن د ډيرې خوشحالئ شپه ده ❀ د الله پاک د رحمت د راتلو شپه ده ❀ نن هٔغه شپه ده پهٔ کومه شپه چې د غمژنو غمونه لرې شول ❀ بے آسرې خلقو ته آسره ميلاؤ شوه ❀ غم زپلې، درديدلې انسانيت ته غمخوار نصيب شو-

نصیب چمکے ہیں فرشیوں کے کہ عرش کے چاند آرہے ہیں
جَھلک سے جن کی فلک ہے روشن وہ شمس تشریف لا رہے ہیں
زمانہ پلٹا ہے، رُت بھی بدلی، فلک پہ چھائی ہوئی ہے بدلی
تمام جنگل بھرے ہیں جل تَھل، ہرے چمن لہلہا رہے ہیں

1...ديوانِ سالک، صفحه:31تا34 ملتقطاً-

شبِ وِلادت میں سب مسلماں نہ کیوں کریں جان و مال قرباں
ابولہب جیسے سخت کافِر خُوشی میں جب فیض پا رہے ہیں
حبیبِ حق ہیں خُدا کی نعمت، بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ
خُدا کے فرمان پر عمل ہے، جو بزمِ مولیٰ سجا رہے ہیں
نِثار تیری چہل پہل پر ہزار عیدیں ربیعُ الاوّل
سوائے ابلیس کے جہاں میں سبھی تو خوشیاں منا رہے ہیں(1)

## اوس د همیشه دپاره ستا نمبر دے اےدولسم تاریخه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ 13 ربیع الاوّل شریف د اتوار په ورځ 7 ستمبر دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ پهٔ خوږ وطن پاکستان کښې پهٔ 7 ستمبر یومِ تحفظِ عقیدهٔ خَتمِ نبوت نمانځلے شي-

او تاسو ته د مزې یوه خبره عرض کړم، مونږ چې د کوم 1500 کلن جشنِ ولادت کولو سعادت حاصلوو، پهٔ دې کښې هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ختمِ نبوت د شان اِظهار دے- مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وئیلي دي:

تمام ہو چکی میلادِ انبیا کی خوشی | ہمیشہ اب تری باری ہے بارہویں تاریخ(2)

یعني مخکښې هم انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام تشریف راوړے، هغوئي هم د اوچتې مرتبې والا دي، د هغوئي د ولادت خوشحالۍ به هُم کیدلې خو چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو، اوس که 500 کلن جشنِ ولادت وي که 1000 کلن، که 1500 کلن جشنِ ولادت وي که 2000 کلن وي، اوس پهٔ دُنیا کښې بَل یو نوے نبي هم نهٔ پیدا کیږي ، تر قیامته پورې به پهٔ ټول کائنات کښې صرف او صرف د دولسمې د سپوږمۍ نُور ځلیږي-

1...دیوانِ سالک، صفحه:3635ملتقطاً۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:121۔

صبحِ طیبہ میں ہوئی، بٹتا ہے باڑا نُور کا | صدقہ لینے کا نُور کا آیا ہے تارا نُور کا
باغِ طیبہ میں سہانا پُھول پُھولا نُور کا | مست بُو ہیں بلبلیں پڑھتی ہیں کلمہ نُور کا
بارہویں کے چاند کا مُجرا ہے سجدہ نُور کا | بارہ بُرجوں سے جھکا ایک اِک ستارہ نُور کا(1)

## د ټولو اخري نبي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه آقا، زمونږه مولیٰ، زمونږه ملجا، زمونږه ماوٰی، زمونږه حامي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اخري نبي دے- الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَؕ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا۠ (۴۰)

(پارہ:22، سورۂ الاحزاب:40)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: مُحَمَّد ستاسو پهٔ سړو کښې د چا پلار نهٔ دے- خو د الله رسول دے او د ټولو نبیانو نه پهٔ اخره کښې تشریف راوړونکے دے او الله پهٔ هر څهٔ پوهېږي-

د دې آیت مبارک تفسیر ❁ پخپله اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم فرمائیلے ❁ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم هم د دې تفسیر بیان کړے ❁ تابعینو هم بیان کړے ❁ غرض دا چې د 15 صدو د ټولو علمائے کرامو، مُحَقِّقِینو، مُصَنِّفِینو، مُفَسِّرِینو، مُحَدِّثِینو، ټول اُمت مسلمه پهٔ مُتَّفِقَه توګه هم دغه تفسیر کړے چې مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اخري نبي دے، د هغوئي دُنیا ته د تشریف راوړلو نه پس به تر قیامته پورې هیڅ یو نوے نبي نهٔ پیدا کېږي- (2)

شہِ انبیا ہے، خُدا کا ہے پیارا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے
مُحَمَّد ہے اَحمَد، ہے سُلطانِ بطحا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:242۔
2...فتاویٰ رضویہ، جلد:14، صفحہ:333 ملخصاً۔

# فرښتے د نبوت مُهر ولګولو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړلو، هٰغه وخت د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مور بي بي حضرت سيده آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہا ډېر عجائبات وليدل، د الله پاک د قدرتونو يـې ډېرې نظارې وکړې- پۀ هغې کښې يوه واقعه بيانوي ، فرمائي: څۀ چې ما ليدلي وو لا پۀ هغې باندې حيرانه ووم چې ناڅاپه درې نُوراني کسان زما مخې ته ظاهر شول، د هغوئي پۀ مخونو باندې دومره نُور وو، دومره نُور وو، داسې ښکاريدله لکه چې نمر د هغوئي پۀ مخونو کښې راختلے وي ✿ پۀ هغوئي کښې د يو سره د سپينو زرو ښکلے جګ وو، د کوم نه چې د مشکو خوشبوئي راتلله ✿ د دويم پۀ لاس کښې شين د زمرودو د 4 ګوټونو والا غټ تالے وو ✿ د دريم پۀ لاس کښې د ريښمو پۀ جامو کښې څۀ څيز رانغښتے شوے وو- دويم کس د کوم پۀ لاس کښې چې غټ تالے وو، هغه تالےد مکي مَدَني، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته کړو او عرض يـې وکړو: اے مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا دُنيا ده، تاسو خوښه کړئ چې کوم ګوټ خوښوئ؟ سيده آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: پۀ دې اوريدو زۀ پۀ تجسس کښې شوم چې وګورم چې زما څوي کوم يو ګوټ خوښوي، پۀ دې کښې محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک راوچت کړو او د تالي پۀ مينځ کښې يـې کيښودو- هٰغه ګس درې کرته ووئيل: د کعبې پۀ رَبّ مې دې قَسم وي! تاسو کعبه خوښه کړه، الله پاک به کعبه ستاسو قبله مقرره وي-

دو عالَم میں روشن ہے اِکّا تمہارا | ہوا لامکاں تک اُجالا تمہارا
بنایا تمہیں حق نے مختار و حاکم | وہ کیا ہے نہیں جس پہ قبضہ تمہارا
بتوں سے کیا پاک قبلہ بنایا | ہے ممنون و شاکِر یہ کعبہ تمہارا

د دې نه پس چې دريم کوم ګَس ووږ هغه د ريښمو کپړه کولاؤ کړه، د هغې نه يې يو مُهر راويستو، داسې پړقيدونکے مُهر وو چې سترګې يې بريښولې- هغه مُهر له د سپينو زرو پهٔ جګ کښې 7 کرته غسل ورکړے شو، بيا يې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دواړو اوګو پهٔ مينځ کښې (د ختمِ نبوت) مُهر ولګولو-[1]

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوګو مبارکو شا طرفته د کونترې د انډې(اګۍ) پهٔ شان راوتې غوښه مبارکه وه، د هغې نه به نُوراني شعلې ختلې او د مشکو پهٔ شان خوشبوئي به يې کوله، پهٔ مخکښينو اسماني کتابونو کښې د هغوئي پهٔ نخښو کښې يوه نخښه دا هم بيان شوې وه چې د هغوئي د اوګو مبارکو پهٔ مينځ کښې به مُهرِ نبوت وي-

دا مُهر مبارک د هغوئي د اوګو مبارکو ترمينځه ولې وو--؟ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ يعني د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دواړو اوګو پهٔ مينځ کښې مُهر نبوت وو، ځکه چې هغوئي د ټولو نه اخري نبي دے-[2]

حضرت علامه بدر الدين عيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: پهٔ کوم لوښي (يا تيلی وغيره) کښې چې ډير قيمتي سامان وي، د هغې د پاځه مُهر لګولے کيږي چې څوک هغه کولاو نهٔ کړي (لکه څنګه چې دلته هم کله پارسل راځي، مثلاً مونږ د لرې نه چرته څهٔ قيمتي څيز راغواړو نو پارسل سيل بند کولے شي، دا دې د پاره چې څوک پارسل اونهٔ څيړي، که څوک يې د پرانستو کوشش کوي نو نيولے کيږي به)- الله پاک د نبوت ټول انوارات، ټول فيضانونه

1…حجةُالله على العالمين، المبحث الرابع…الخ، القسم الثانی…الخ، الباب الثانی…الخ، صفحه:168-
2…شمائل ترمذی، باب ماجاء فی خلق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:12، رقم:7-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ زړهٔ مبارک کښې کېښودل او مُهر يــې پرې ولګولو- دا د دې خبرې نخښه وه چې نبوت پهٔ رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ختم شو، اوس به تر قيامته پورې هيڅ يو نوے نبي نهٔ پيدا کيږي-(1)

نہیں ہے اور نہ ہوگا بعد آقا کے نبی کوئی | وہ ہیں شاہِ رُسل ختمِ نبوت اِس کو کہتے ہیں
لگا کر پشت پرمُہرِ نبوت حق تعالیٰ نے | اِنہیں آخر میں بھیجا خاتمیت اِس کو کہتے ہیں(2)

## د فرښتو او پيريانو ګواهي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت شپه ده، د مکي مدني سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت ذِکر هم مونږ کوو او ورسره ورسره د ختمِ نبوت شان هم اورو- پهٔ دې باره کښې يوه ښکلې واقعه تاسو ته بيانووم، د هغې نه مخکښې لږ شان وضاحت واورئ!

د جهالت پهٔ زمانه کښې کهانت ډېر مشهور وو- کاهِن به هٰغه کَس ته وئيلے کېدو د کوم چې به د پيريانو سره رابطه وه، د مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت نه مخکښې به پيريانو ته تر اسمانونو پورې د تللو اجازت وو، دوئي به اسمانونو ته نزدې تلل، هلته به يــې غوږونه کېښودل او د فرښتو خبرې به يــې اوريدلې او بيا به راتلل او کاهنانو ته به يــې هغه خبرې وئيلې، داسې به هغوئي ته د راتلونکې وخت خبرونه ميلاؤيدل-(3)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت نه مخکښې ډېرو کاهنانو هم دا زيرے اوريدلے وو چې اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړونکے دے-

---

1...عمدۃ القاری، کتاب الصلاۃ، باب کیف فرضت...الخ، جلد:3، صفحہ:242 زیرِ حدیث:349 ملخصاً۔
2...قبالۂ بخشش، صفحہ:207۔
3...حجۃُ اللہ علی العالمین، المبحث الرابع...الخ، القسم الاوّل...الخ، الباب الرابع...الخ، صفحہ:125 ملخصاً۔

علامه نبهاني رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه دلته ډېره ښکلې نکته بيان کړې ده، فرمائي: پيريانو به خبرې اوريدلې د فرښتو نه، راتلل او بيانولې به يې کاهنانو ته، بيا کاهنانو خبرونه ورکړل چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بس دُنيا ته تشريف راوړونکے دے- د دې نه دا معلومېږي چې پۀ اسمانانو کښې هم د مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کيدلې، فرښتو به د رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کولې، پيريانو به هلته اوريدلې، راتلل به او انسانانو ته به يې بيانولې-(1)

صف بہ صف ہیں کیوں فرشتے باادب | شور کیسا ہے عجم سے تاعرب
کون ساہ ماہِ منور آگیا | چاندنا پھیلا ہے جس کے نور کا
کوئی کہتا ہے کہ اے اَہْلِ جہاں | نائِبِ رحمٰن آتا ہے یہاں
جن کی آمد کی خبر عیسٰی نے دی | ذِکْر فرماتے رہے جن کا نبی

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خومره ځانګړے شان دے---!! انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو چرچے کولې، فرښتو به د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو تذکرې چيړلې، پۀ زمکه او اسمانانو باندې د مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو دهوم دهام وو، چې ټول مخلوق د رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو چرچے کړې دي نو مونږه څنګه وروستو پاتې شو، مونږه پۀ جوش او جذبې سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتلو چرچے بيا بيا ولې نه کوو---؟

جھوم کر سارے پکارو مرحبا یامصطفٰے | چوم کر لب کہہ دو یارو مرحبا یامصطفٰے
کہہ کر اے عِصیاں شِعار و مرحبا یامصطفٰے | بگڑی قسمت کوسنوارومرحبایامصطفٰے
مفلِسو، غُربت کے مارو مرحبا یامصطفٰے | تم بھی کہہ دو مالدارو مرحبا یامصطفٰے

---

1...حجةُ الله على العالمين، المبحث الرابع...الخ، القسم الاوّل...الخ، الباب الرابع...الخ، صفحه:128 بتصرف-

دھوم ہے عطّارؔ ہر سُو شاہ کے مِیلاد کی | جھوم کر تم بھی پکارو مرحبا یامصطفٰے [1]

خير! ما يوه واقعه بيانوله- واقعه دا ده چې رَبِيعه بن نَصر د يمن بادشاه وو، هغه يو ځل يو خوب وليدو، ډير ويريدو، ډير خطرناک خوب وو، بيا هغه د دې د تعبير نه د ځان خبرولو د پاره د خپل ملک ټول معبرين (يعني تعبير بيانوونکي) راجمع کړل، اوئې وئيل: ما يو خوب ليدلے دے، تاسو د دې تعبير بيان کړئ! خو شرط دا دے چې زهٔ به خوب نهٔ بيانووم، ما چې څهٔ ليدلي دي؟ دا به هم تاسو بيانوئ او د دې تعبير به هم راوباسئ-

ډير عجيبه شرط وو، چې سوال يې نهٔ دے پوښتلے نو جواب د څهٔ څيز---؟ چې د خوب پته ولګي نو تعبير به يې بيان کړے شي خو هغه بادشاه وو، د بادشاهانو خپل مزاج وي- د هغوئي پهٔ مخکښې څوک څهٔ وئيلے شي- خير! يو معبِّر همت وکړو، خولهٔ يې کولاو کړه او اوئې وئيل: بادشاه سلامت---!! يو کَس دے کوم چې ستاسو شرط پوره کولے شي- پوښتنه يې وکړه: څوک دے؟ اوئې وئيل: د شام اوسيدونکے دے، کاهِن دے (يعني د هغه د پيريانو سره رابطه ده)، د هغه نوم سِطِّيح دے- بادشاه حکم وکړو چې سِطِّيح دې فوراً حاضر کړے شي-

د شاهي اهتمام سره سِطِّيح راوبللے شو، معامله هغه ته کيښودے شوه- د سِطِّيح چې د پيريانو سره کومه رابطه وه، د هغې پهٔ ذريعه هغهٔ ووئيل: بادشاه سلامت! تاسو خوب ليدلے چې د تيارې يو سمندر دے، چرته چې هر طرف ته تکه توره تيارهٔ راخوره ده، بيا پهٔ هُغه تيارهٔ کښې يوه بريښنا وشوه، د هُغې بريښنا رڼا پهٔ تِهَامَه (يعني مکه مکرمه) کښې پريوتله او هغې ټولې تيارې وخوړلې-

دومره اوريدل وو چې بادشاه د خوشحالئ نه راټوپ کړې ، اوئې وئيل: بالکل ما هم

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:411410 ملتقطاً۔

دغه خوب لیدلے دے۔ اوس د دې تعبیر هم ووایه---!! سِطِّیح ووئیل: بادشاه سلامت---!! ډېر زر یو نبي تشریف راوړونکے دے، د هغوئي د راتللو سره به ټول ظالِم حکومتونه ختم شي (پۀ دُنیا کښې به د عدل او د انصاف رڼا خوره شي)۔ هغه نور ووئیل: د اخري زمانې (یعنې تر قیامته) پورې به د هٰغه نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرچے کیږي۔[1]

| | |
|---|---|
| مچی ہے دُھوم پیمبر کی آمد آمد ہے | حبیبِ خالقِ اَکبر کی آمد آمد ہے |
| کیا ہے سبز علم نصب بامِ کعبہ پر | کہ دو جہان کے سرور کی آمد آمد ہے |
| نہ کیوں ہو نور سے تبدیل کفر کی ظلمت | خدا کے ماہِ منوّر کی آمد آمد ہے |
| ہے جبرئیل کو حکمِ خدا خبر کردو | کہ آج حق کے پیمبر کی آمد آمد ہے |
| خوشی کے جوش میں ہیں بلبلیں بھی نغمہ کناں | چمن میں آج گلِ تر کی آمد آمد ہے |
| دوزانو ہو کے اَدَب سے پڑھو صلوۃ و سلام | عزیزو خلق کے مصدر کی آمد آمد ہے |
| جمیلؔ قادری کہہ دے کھڑے ہوں اہلِ سنن | ہمارے حامی و یاوَر کی آمد آمد ہے[2] |

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یو خو د دې نه دا معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو برکت دے چې پۀ دُنیا باندې چې کومه تیارۀ راخوره وه، د هغوئي د نُور سره هٰغه تیارۀ لرې شوه۔ بیا دا هم معلومه شوه چې د خوږ مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرچے به تر قیامته پورې کیږي، یعنې د هغوئي نه پس به څوک نوے نبي تشریف نۀ راوړي، تر قیامته پورې به بس هم د هغوئي ذِکرِ پاک بلند وي۔

ښه د دې خبرې پته سِطِّیح ته څنګه ولګیدله؟ د پیریانو پۀ ذریعه، پیریانو ته د کوم ځائے نه پته ولګیدله؟ د فرښتو د خوا نه، معلومه شوه چې د مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1...حجۃُ اللہ علی العالمین، المبحث الرابع...الخ، القسم الاوّل...الخ، الباب الرابع...الخ، صفحہ:128 بتصرف۔
2...قبالۂ بخشش، صفحہ:333۔

دُنیا ته د تشریف راوړلو نه مخکښې پۀ فرښتو کښې هم چرچے کېدلې چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اخري نبي دے، کله چې هغوئي تشريف راوړې نو د هغې نه پس به تر قيامته پورې هم د هغوئي چرچے کيږي-

| | |
|---|---|
| سب سے اولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و والا ہمارا نبی |
| بزمِ آخر کا شمع فروزاں ہوا | نُورِ اوّل کا جلوہ ہمارا نبی |
| خلق سے اولیاء اولیاء سے رُسُل | اور رَسولوں سے اعلیٰ ہمارا نبی |
| کیا خبر کتنے تارے کھلے چھپ گئے | پر نہ ڈوبے نہ ڈوبا ہمارا نبی(1) |

## د عقيده ختمِ نبوت اهميت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خبره هميشه ياد ساتئ چې عقيده ختمِ نبوت څۀ د معمولي اهميت والا عقيده نۀ ده بلکې دا د دِين د ضرورياتو نه ده يعني پۀ اِسلام کښې چې کوم اهميت د توحيد د عقيدې دے، هم هُغه اهميت د عقيده ختمِ نبوت هم دے، د مسلمانيدو د پاره چې څنګه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله اِقرار کول ضروري دي، هم دغه شان خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي منل هم ضروري دي-(2) کلمه طَيبه د کومې د لوستلو سره چې کافِر مسلمانيږي لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله پۀ دې کلمه کښې چې کوم مُحَمَّد لفظ دے، د دې نه بَل څوک نۀ بلکې د خدائے هُغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُراد دے، د چا پۀ سر باندې چې رَبِّ کائنات د خَاتَمُ النَّبِيّن (يعني د ټولو آخري نبي) تاج کېښودے دے، لهذا کوم بنده چې کلمه طيبه خو ووائي خو حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي اونۀ مني، هغه چرې، چرې هم مسلمان کيدے نۀ شي-

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:139138 ملتقطاً-

2 ...فتاوٰیٰ رضویه، جلد:15، صفحه:630 بتصرف-

| | |
|---|---|
| بعد آپ کے ہر گز نہ آئے گا نبی نیا | واللہ! ایماں ہے مرا، اے آخری نبی |
| سب انبیا کے ہو تمہیں سردار لَاجَرَم | تم سا نہیں ہے دوسرا، اے آخری نبی |
| دے دے شفاعت کی مجھے خیرات خیر سے | روزِ قیامت بخشوا، اے آخری نبی |

*-*-*

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفےٰ | د ټولو آخري نبي | احمدِ مجتبیٰ | د ټولو آخري نبي |
| ګران د آمنه | د ټولو آخري نبي | سردارِ دو جهان | د ټولو آخري نبي |
| تاجدارِ انبيا | د ټولو آخري نبي | دے حبيبِ کبريا | د ټولو آخري نبي |
| دے شفيعُ الورا | د ټولو آخري نبي | د ګنهګارو آسرا | د ټولو آخري نبي |
| اعتقاد د فاطمه | د ټولو آخري نبي | دے يقين د عائشه | د ټولو آخري نبي |
| عقيده د صحابه! | د ټولو آخري نبي | د اهلِ بيتو عقيده! | د ټولو آخري نبي |
| د غوثِ پاک عقيده! | د ټولو آخري نبي | عقيده د اولياء! | د ټولو آخري نبي |
| نعره د ځوان او بوډا | د ټولو آخري نبي | د هر ماشوم نعره | د ټولو آخري نبي |
| عقيده ده د رضا | د ټولو آخري نبي | د عطّار ده نعره | د ټولو آخري نبي [1] |

## لوحِ مَحفُوظ او د ختمِ نبوت عقيده

د حديثِ پاک پهٔ مشهور کتاب **مُسلم شريف** کښې دي: د الله پاک اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: الله پاک د زمکې او د اسمان د پيدائش نه 50 زره کاله مخکښې د مخلوق تقدير وليکلو۔ [2] **پهٔ روايت کښې دي:** هُغه وخت چې پهٔ لوحِ مَحفُوظ باندې څهٔ وليکلے شول، پهٔ هغې کښې دا هم وو: اَنَّ مُحَمَّدًا خَاتَمُ النَّبِيِّين بے شکه مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے۔ [3]

---

1 ...وسائلِ فردوس، صفحه:5251۔

2 ...مسلم، کتاب القدر، باب حِجاج آدم و موسیٰ علیهما السَّلام، صفحه:1023، حديث:2653۔

3 ...مسلم، کتاب القدر، باب حِجاج آدم و موسیٰ علیهما السَّلام، صفحه:1023، حديث:2653۔

## حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقیده

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: کله چې الله پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام پیدا کړو نو د هغوئې اولاد هغوي ته وښودلے شو، هغوئې پۀ خپل اولاد کښې بعضې د بعضو نه افضل ولیدل، بس هغوئې د ټولو نه پۀ آخره کښې یو اوچت او روښانه نُور ولیدلو، عرض یې وکړو: یَا رَبِّ! مَنْ هٰذَا؟ اے الله پاکه! دا څوک دے؟ ارشاد وشو: اے آدمه! دا ستاسو ځوي **احمد** (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے، دا اَوَّل دے، دا آخِر دے، دا هغه دے کوم چې به (د قیامت پۀ ورځ) د ټولو نه مخکښې شفاعت کوي، د دوئې شفاعت به د ټولو نه مخکښې قبلولے شي۔[1] ❁ د صحابئ رسول حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د الله پاک د نبي حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام د دواړو اوګو ترمینځه لیکلي شوي وو: مُحَمَّد رسول الله خَاتَمُ النَّبِیّٖن **مُحَمَّد** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د الله پاک رسول او د ټولو نه اخري نبي دے۔**[2]

| | | | |
|---|---|---|---|
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! (3) |

## پۀ اخري کیدو کښې پټ فضیلتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لٰکِنۡ رَّسُوۡلَ اللّٰہِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ (پاره:22، سورۂ احزاب:40) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: خو د **الله** رسول دے او د ټولو نبیانو نه پۀ اخره کښې تشریف راوړونکے دے۔ |

---

1 ...مختصر تاریخ دمشق، ما ورد فی اصطفائه علی العالمین... الخ، جلد:2، صفحه:111۔
2 ...مختصر تاریخ دمشق، ذکر ما خص به و شرف به، جلد:2، صفحه:137۔
3 ...وسائلِ فردوس، صفحه:51۔

الله پاک چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا کوم صفت ذِکر کړے چې هغوئي خَاتَمُ النَّبِيين دي، د ټولو نه اخري نبي دے۔ ياد ساتئ چې دا صرف يو صفت نهٔ دے، صرف يو فضيلت نهٔ دے بلکې دا وصفِ مصطفٰے د ډيرو اوصافو مجموعه ده۔

هغه څنګه۔۔۔؟ واورئ! زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي دے، يعني د ټولو اخري هادي (هدايت ورکولو والا) دے، پهٔ دې ځائے کښې يعني د نبوت پهٔ معامله کښې د اخري کيدو ډيرې تقاضې دي، مثلاً

## (1): د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم فراختيا

✿ د اخري نبي کيدو مطلب دے چې اوس به تر قيامته پورې يو نوے نبي هم نهٔ راځي، ځکه ضروري دي چې کوم اخري نبي وي، د هغوئي سره تر قيامته پورې د معاملاتو عِلم هم وي، نو بيا به تر قيامته پورې هدايت کافي کيدے شي۔ کوم چې اخري نبي وي خو د يو څو صدو معلومات لري، د هغې نه مخکښې عِلم د هغوئي سره نهٔ وي نو ظاهره ده چې هغوئي به راتلونکو نسلونو ته هدايت نهٔ شي ورکولے، چې راتلونکو نسلونو ته هدايت نهٔ شي ورکولے نو د نوي نبي ضرورت به راپيښيږي۔ ځکه ضروري دي چې کوم اخري نبي وي، د هغوئي سره تر قيامته پورې د ټولو حالاتو عِلم وي، هغه اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تر قيامته پورې د راتلونکي هر يو ساعت، د هرې يوې صدۍ، د هرې يوې معاشرې، د هر قِسمه جدت، پهٔ هر دور کښې د بدليدونکو انساني طبيعتونو، رسمونو او رواجونو نه ښهٔ خبر وي، نو بيا هغه تر قيامته پورې د راتلونکو د پاره د هدايت ذريعه ګرځيدے شي۔ لهذا چې الله پاک کله وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ (پاره:22، سورهٔ احزاب:40) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبيانو نه پهٔ اخره کښې تشريف راوړونکے دے۔ |

نو پۀ دې فرمان عالي شان کښې دا اِعلان هم شامل دے چې زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ډير فراخه عِلم لرونکے دے، هغوئي تر قيامته پورې د راتلونکي هرې يوې صدئ، د هر يو انسان د ټولو ضرورتونو ښۀ عِلم لرونکے دے- د هغوئي عِلم تر قيامته پورې د راتلونکو د پاره محيط دے-

## ټوله زمکه يې وليدله

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما فرمائي: حاضِر او ناظِر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اللّٰهَ قَدْ رَفَعَ لِیَ الدُّنْيَا فَاَنَا اَنْظُرُ اِلَيْهَا وِالٰی مَا هُوَ كَائِنٌ فِيْهَا اِلٰی يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَاَنَّمَا اَنْظُرُ اِلٰی كَفِّیْ هَذِهٖ يعنې بے شکه الله پاک زما د پاره دُنيا راوچته کړه، پس زۀ دا او تر قيامته پورې چې پۀ دې کښې څۀ کيدونکي دي، ټول داسې وينم، لکه څنګه چې د خپل لاس دا تَلے وينم-[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم---!! ټوله زمکه د کومې ټوله رقبه چې تقريباً 510 مليَنه مربع کلو ميټره ده، رسولِ هاشمي مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مدينے منورې پۀ زمکه ناست دے او داسې يې ويني لکه څنګه چې انسان د خپل لاس تلے ويني-

## څۀ چې نۀ وو هغه يې هم وليدل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس د دې حديث شريف پۀ يو بل اړخ باندې غور وکړئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف دا اونۀ وئيل چې اوس پۀ دُنيا کښې څۀ موجود دي زۀ هُغه ټول وينم بلکې اوئې فرمائيل: (اوس چې څۀ دي هغه خو وينم، د هغې سره سره) تر قيامته پورې چې به څۀ کيږي، زۀ هُغه هر څۀ هم وينم-

---

1...مجمع الزوائد، کتاب علامات النبوة، باب اخباره بالمغيبات، جلد:8، صفحه:365، حديث:14067-

دا ډېره اهمه خبره ده- ❁ سائنس که هر څومره هم ترقي وکړي ❁ که هر څومره هم آلات ايجاد کړي ❁ مونږ که هر څنګه مشينونه اِستعمال کړو ❁ لينز ولګوو خو مَعدُوم څيزونه (يعني څۀ چې لا پيدا شوي نۀ دي، هغه) مونږ نۀ شو ليدلے- نن سائنس ترقي کړې ده، د سټيلائټ پۀ ذريعه ټوله دُنيا د سکرين پۀ ذريعه کتلے کيدے شي خو لا څۀ چې اوس پۀ دُنيا نشته، هغه مونږه د سټيلائټ (***Satellite***) پۀ ذريعه هم نۀ شو ليدلے-

فرض کړئ چې پۀ يو ښار کښې يو غټ ټاور دے، تاسو به د سټيلائټ پۀ ذريعه هُغه ټاور ووينئ خو يو کال پس به د هُغه ټاور پۀ ځائے څۀ وي؟ دا تاسو د سټيلائټ پۀ ذريعه هم نۀ شئ ليدلے- قربان شم! دا زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان دے، پۀ دې سائنسي دور کښې نۀ بلکې د دې نه تقريباً څوارلس نيم سوه کاله مخکښې يـې ټوله دُنيا د سټيلائټ پۀ ذريعه نۀ بلکې د الله پاک پۀ عطا کړے شوي طاقت سره ليدله او صرف هُغه وخت يـې نۀ ليدله بلکې تر قيامته پورې چې پۀ دې دُنيا کښې څۀ کيدل دي، هُغه هر څۀ يـې ليدل او صرف لوئې واقعې يـې نۀ، غټ غټ څيزونه يـې نۀ بلکې د دې زمکې پۀ وړو وړو ذرو کښې چې به څۀ بدلون کيږي، هُغه هر څۀ يـې هم ليدل-

آنکھیں یہ نہیں سبزۂ مِژگاں کے قریب | چرتے ہیں فضائے لامکاں میں آہُو [1]

**وضاحت:** د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا مبارکې سترګې، دا عامې سترګې مۀ ګڼئ، دا خو لکه چې پۀ لا مکان کښې ګرځيدونکې هوسۍ دي د کومو نه چې هيڅ يوه خبره پټه نۀ ده-

## (2): د کامِل دِين والا نبي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اخري نبي کيدلو يوه تقاضا دا هم ده چې کوم اخري نبي وي، د هغوئې سره هدايت کامِل او اکمل پکار دے، ظاهره ده چې تر قيامته پورې د

---

1 ...حدائقِ بخشش، صفحه:444-

راتلونکې هرې يوې معاشرې د پاره هدايت نۀ وي نو هغوئي ته به د نوي نبي ضرورت راپيښيږي- د مثال پۀ توګه 1500 کاله مخکښې چې کوم دور وو او نن سبا چې کوم دور دے، پۀ دې کښې د زمکې او د اسمان فرق دے، مخکښې به پۀ اوښانو باندې سفر کيدو، اوس انسانان پۀ هوا کښې سفر کوي، مخکښې به يــې د کونترو پۀ ذريعه پيغامونه ليږل، اوس د موبائل زمانه ده، مخکښې به خلقو پۀ لاسونو کار کوو، اوس د مشين زمانه ده، که د اِسلام سره د اوسني دور د انسان د پاره هدايت موجود نۀ وي نو د نن صبا انسان ته به د نوي هدايت ضرورت راپيښيږي، ځکه ضروري دي چې کوم اخري نبي جوړ شي او تشريف راوړي، د هغوئي سره هدايت هم کامِل او اکمل وي چې تر قيامته پورې د راتلونکو دپاره هُغه هدايت کافي شي- نو الله پاک چې څۀ وفرمائيل:

وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ
(پارہ:22، سورۂ احزاب:40)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبيانو نه پۀ اخره کښې تشريف راوړونکے دے-

دا صرف د ختمِ نبوت د عقيدې اعلان نۀ دے بلکې د دې خبرې اعلان هم دے چې مخکښې چې کومو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام تشريف راوړے، د هغوئي چې کوم دِين وو، هغه د زمانو پۀ قيد کښې وو، د هغوئي ورکړې شوې هدايتونه د هغوئي د زمانو پورې محدود وو، اوس چې کوم خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړے دے، د هغوئي هدايت کامِل او اکمل دے، د هُغه نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذريعه انسانيت ته هُغه څۀ وښودلے شو، کوم چې تر قيامته پورې د هغوئي د هر يو ضرورت پوره کولو د پاره کافي دي-

## (3): عالـمګير نبوت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اخري نبي کيدو يوه تقاضا دا هم ده چې کوم اخري نبي جوړيږي ، د هغوئي نبوت دې عالـمګير وي، ظاهره ده که اخري نبي د يوې علاقې نبي وي نو د نورو علاقو والؤ ته به د نوي نبي ضرورت راپيښيږي- ځکه الله پاک وفرمائيل:

وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ (پاره:22، سورۂ احزاب:40)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبيانو نه پهٔ اخره کښې تشريف راوړونکے دے۔

دا د دې خبرې اعلان هم دے چې مخکښې به کومو نبيانو تشريف راوړلو، هغوئي به د خپلو خپلو علاقو نبيان وو: ❁ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د بابِل والؤ طرف ته نبي راليږلے شوے وو۔ ❁ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د بني اسرائيلو طرف ته نبي راليږلے شوے وو۔ ❁ حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَام د قومِ عاد طرف ته نبي راليږلے شوے وو۔ ❁حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام د قومِ ثمود طرف ته نبي راليږلے شوے وو۔

خو قربان شم! چې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ باره کښې دا اعلان وکړے شو چې تاسو د يو خاص قوم، د يوې خاص علاقې نهٔ بلکې د ټول انسانيت نبي يئ۔

## (4): کامِل او اکمل سيرت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اخري نبي کيدلو څلورمه تقاضا دا ده چې د اخري نبي سيرت کامِل او اکمل وي، چې تر قيامته پورې د راتلونکې هر يو انسان د پاره د هغوئي پهٔ سيرت کښې عملي نمونه ميلاؤ شي۔ څکه چې الله پاک کله وفرمائيل:

وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ (پاره:22، سورۂ احزاب:40)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبيانو نه پهٔ اخره کښې تشريف راوړونکے دے۔

پهٔ دې کښې د ختمِ نبوت د عقيدې سره سره د دې خبرې اِعلان هم شامل دے چې اوس کوم نبي تشريف راوړے دے، دا د ټولو نه د کامِل سيرت والا نبي دے۔

### د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت جامعيت

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ (پارہ:7،سورۂالانعام:90) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو د هغوئي د هدايت تابعداري وکړئ- |
| --- | --- |

د لفظ اِقتِدَاء معنیٰ ده د بل چا په نمونه چليدل، د چا پهٔ شان صفات او اخلاق پهٔ خپل ځان کښې حاصلولو چې دا بل کس د وړومبي کس نمونه جوړ شي(1)

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ټول انبيائے کرام عليهمُ السَّلام پهٔ خاص خاص معاملاتو کښې ډېر د کمال والا وو مثلاً د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د برداشت قوت ډېر د کمال وو چې 950 کاله تبليغ يـې وفرمائيلو، تکليفونه يـې برداشت کړل خو اُف قدرې يـې اونهٔ کړو ❁ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د اولې درجې سخي، د الله پاک پهٔ لاره کښې قربانو ورکولو والا دے ❁ حضرت اَيُّوب، حضرت اِسحاق او حضرت يعقوب عليهمُ السَّلام د اولې درجې صبر کوونکي دي ❁ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ډېر کمال والا معجزو والا، مُدبر او حکمت والا دے ❁ حضرت يحيٰ او حضرت عيسیٰ عليهما السَّلام د اولې درجې زاهدان دي ❁ حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ډېر رښتونے د اولې درجې د رښتوني وعدې والاد دے ❁ حضرت يونُس عَلَيْهِ السَّلَام د اولې درجې د عاجزیٔ او انکسارئ والا دے- غرض دا چې ټول انبيائے کرام عليهمُ السَّلام د کمالونو والا دي خو پهٔ خاص خاص صفتونو کښې ډېر د اعلیٰ درجې کمال لرونکي دي- اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو دا ټول کمالات ټول پهٔ ټوله ډېر پهٔ اعلیٰ سطحاختيار کړئ (بلکې د دې انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام نه هم پهٔ خو چنده زيات) د ټولو کمالاتو مجموعه جوړه شئ!(2)

سُبْحٰنَ الله! د فارسی يو شاعر څهٔ ښهٔ وئيلي دي:

| | | | | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| حُسنِ | يُوسُف، | دَمِ | عيسیٰ، | يَدِ | بَيْضَاء | دَارِی |
| آنْچِه | خُوبانْ | هَمه | دَارَنْد، | تُو | تَنْهَا | دَارِی |

1...تفسيرنعيمی، پاره:7، الانعام، زيرِ آيت:90، جلد:7، صفحه:612ملخصاً-

2...تفسيرنعيمی، پاره:7، سورۂانعام، زيرِ آيت:90، جلد:7، صفحه:613ملخصاً-

**مفهوم:** يعني د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ حُسن کښې کمال نصيب شو، حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام به پهٔ پوک وهلو پهٔ بےساه کښې ساه اچوله، حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته د پړقيدونکي لاس معجزه عطا شوه، دا ټول د ډير لوئي کمالاتو والا وو خو اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د هغوئي ټول په ټوله کمالونه پهٔ تاسو کښې يواځې راجمع کړے شوي دي-

## د ټولو نه اولىٰ او اعلىٰ زمونږه نبي

**حضرت سيده آمنه رَضِيَ اللّٰهُ عَـنْها فرمائي:** کله چې حضور اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا شو نو ما وکتل چې يوه لويه وريځ راغله پهٔ کومه کښې چې د رڼا سره سره د آسونو د شنهيدو او د مرغو د الوتو اوازونه هم وو او د بعضې انسانانو خبرې هم اوريدلے کيدلې- بيا يو دم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د مخې نه غائب شو، ما واوريدل **چې چا اعلان کولو او وئيل يې چې:** پهٔ مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې د مشرق او د مغرب سيل وکړئ! هغوئي سمندرونو ته بوځئ! چې ټول کائنات ته د هغوئي نوم ، د هغوئي حُليه، د هغوئي صفتونه معلوم شي، دوئي د ټولو ساه لرونکو مخلوقاتو يعنې پيريانو، انسانانو، فرښتو او څناورو او مرغو مخې ته پيش کړئ! ❁ دوئي ته د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام صورت ❁ د حضرت شيث عَلَيْهِ السَّلَام معرفت ❁ د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام بهادري ❁ د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خُلَّت ❁ د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ژبه ❁ د حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام رضا ❁ د حضرت صالِح عَلَيْهِ السَّلَام فصاحت ❁ د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَام حکمت ❁ د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام بشارت ❁ د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام شِدت (يعنې جلال) ❁ د حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام صبر ❁ د حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَام طاعت ❁ د حضرت يُوشَع عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پهٔ لار کښې جنګيدل❁ د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام اواز ❁ د حضرت دانيال عَلَيْهِ السَّلَام محبت ❁ د حضرت اِلياس عَلَيْهِ السَّلَام وقار ❁ د حضرت يحيىٰ عَلَيْهِ السَّلَام عصمت (يعنې پاک والے) ❁ د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام زُهد عطا کړئ او دا د ټولو پيغمبرانو پهٔ

کمالاتو او ښو اخلاقو باندې ښائسته کړئ! (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ختمِ نبوت شان--!! کله چې الله پاک وفرمائيل چې هغوئي اخري نبي دے نو د دې يوه معنیٰ دا هم ده چې مونږه خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ❁ صفتونه هُغه ورکړل چې آدم عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي ❁ خُلَّت مو هُغه عطا کړو چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي ❁ د کلام کولو شان مو ورته هُغه عطا کړو چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي ❁ حُسن مو ورله هُغه ورکړو چې يوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي د ديدار ارمان فرمائي ❁ ملک او بادشاهي مو ورته هُغه عطا کړه چې سليمان عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي ❁ صبر مو ورله هُغه ورکړو چې يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي او ❁ مسيحائي مو ورته هُغه عطا کړه چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پرې رشک فرمائي، غرض دا چې ټول صفتونه او کمالات مو ورته داسې عطا کړي دي چې د هغې پهٔ شان صفتونه مخکښينو نبيانو ته هم نهٔ دي عطا کړے شوي۔

ذات ہوئی انتخاب، وَصف ہوئے لاجواب
نام ہوا مصطفٰے تم پہ کروڑوں درود (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم دا يو لفظ دے:

وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ (پارہ:22، سورۂ احزاب:40)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د ټولو نبيانو نه پهٔ اخره کښې تشريف راوړونکے دے۔

پهٔ دې يو لفظ کښې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه څنګه شانونه بيان شوي دي، پهٔ دې کښې د هغوئي د عِلم د فراختيا بيان هم موجود دے، پهٔ دې کښې د هغوئي د دِين د کامِل او اکمل کيدو بيان هم موجود دے او پهٔ دې کښې د هغوئي د بے مثله او بے

1...سيرت مصطفیٰ، صفحه:6968 بتصرف قليل۔

2...حدائق بخشش، صفحه:264۔

مثاله کيدو بيان هم موجود دے۔

بيا به مونږه ولې پهٔ خوشحالئ سره نعرې نهٔ لګوو چې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفے | د ټولو آخري نبي | احمدِ مجتبیٰ | د ټولو آخري نبي | | |
| ګران د آمنه | د ټولو آخري نبي | سردارِ دو جهان | د ټولو آخري نبي | | |
| تاجدارِ انبيا | د ټولو آخري نبي | دے حبيبِ کبريا | د ټولو آخري نبي | | |
| دے شفيعُ الورا | د ټولو آخري نبي | د ګنهګارو آسرا | د ټولو آخري نبي | | |
| اعتقاد د فاطمه | د ټولو آخري نبي | دے يقين د عائشه | د ټولو آخري نبي | | |
| عقيده د صحابه! | د ټولو آخري نبي | د اهلِ بيتو عقيده! | د ټولو آخري نبي | | |
| د غوثِ پاک عقيده! | د ټولو آخري نبي | عقيده د اولياء! | د ټولو آخري نبي | | |
| نعره د ځوان او بوډا | د ټولو آخري نبي | د هر ماشوم نعره | د ټولو آخري نبي | | |
| عقيده ده د رضا | د ټولو آخري نبي | د عطّار ده نعره | د ټولو آخري نبي (1) | | |

## د اُمت د پاره د ختمِ نبوت فيضان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخري نبي راغلے دے، د دې ختمِ نبوت د شان فيضان زمونږه هم نصيب شوے دے۔

❁ رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخري نبي دے، ځکه اوس مونږ ته د بل يو نبي د انتظار کولو ضرورت نشته، دا ډېر لوئي امتحان دے، د کوم نه چې زمونږه نجات نصيب شو، آؤ جي! چې اول د يو نبي کلمه وائې او بيا نوے نبي تشريف راوړي نو د مخکښيني د کلمې پريښودل او د نوي نبي کلمه لوستل ګران کار دے۔ هُغه خلق کومو چې به د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام کلمه وئيله، کله چې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو نو د هغوئي د پاره امتحان شو، دوئي د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام کلمې پريښودو ته تيار نهٔ وو، هغوئي د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د شهيد کولو ناپاک کوششونه وکړل چې پهٔ

1 ...وسائلِ فردوس، صفحه:5251۔

نتيجه کښې يې د دوزخ حقداران شول- سوچ وکړئ چې که پهٔ دې امتحان کښې مونږ هم اچولے شوي وو نو بيا به مو دا تلل هم کولےچې آيا چا چې اوس د نبوت دعوىٰ کړې ده، دا رښتونے دے که دروغژن دے، دا ډېره د ازميښت خبره وه، قربان شم! د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت مونږ د دې امتحان نه بچ کړے شو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي راغلے، اوس بس خبره فائنل ده، بل يو نبي راتلل هم نهٔ شته او که څوک بد بخته د نبوت دعوىٰ هم وکړي نو د هغهٔ د کتنې هډو ضرورت نشته، پهٔ پټو سترګو ووايئ چې دا بد بخته دروغژن دے- سوچ وکړئ چې دا امتحان نهٔ راتلل څومره لوئي نعمت دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت زمونږه دا نعمت نصيب شو- ❁ دغه شان نور هم ډېر فيضانونه دي کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ختمِ نبوت د شان پهٔ برکت زمونږه نصيب شوي دي- يو فيضان دا هم دے چې زمونږ د "خَيرِ اُمَّت" لقب نصيب شو- الله پاک فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ (پاره:4، سورهٔ آلِ عمران:110)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو بهترين اُمت يې کوم چې د خلقو (د هدايت) د پاره راښکاره کړے شو، تاسو د نيکۍ حُکم ورکوئ او د بدۍ نه منع کول کوئ-

د نيکۍ دعوت ورکول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام فريضه وه، کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي جوړ او تشريف يې راوړلو نو ظاهره ده چې تر قيامته پورې هيڅ يو نوے نبي نهٔ شي پيدا کيدے، لهذا اوس مونږ ته دا ذمه واري راسپارلے شوې ده چې د نبيانو والا کار دې اوس دا اُمت وکړي، يعنې د نيکۍ دعوت به مخکښې نبيانو ورکولو، اوس به يې اُمتيان ورکوي-

بيا پهٔ دې بنياد باندې يعنې دا **د نيکۍ دعوت** ورکوونکے اُمت دے، لهذا الله پاک دې

اُمت ته د خَيرِ اُمَّت (د بهترين اُمت) لقب عطا کړو-اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا زمونږه د مکي مَدَني، رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ختمِ نبوت د شان فيضان دے-

الله پاک دې زمونږه د ختمِ نبوت پهٔ عقيده باندې اِستقامت نصيب کړي- د ختمِ نبوت د شان چې دا کوم فيضان زمونږ نصيب شوے، کاش چې مونږه پهٔ دې منصب ځان پوهه کوونکي جوړ شو، د دې منصب د تقاضو پوره کولو يعنې د نيکۍ د دعوت ورکوونکي جوړ شو-

## 12 دِيني کارونه کوئ---!!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوت اِسلامي پهٔ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ د دعوت پهٔ عام کولو کښې مصروف دے، تاسو هم د دې دِيني ماحول سره تړون پيدا کړئ! ❁ پهٔ هفته واره اجتماع کښې شرکت کوئ! ❁ د فيضانِ سُنَّت درس اورئ او ورکوئ! ❁ پهٔ علاقائي دوره کښې شرکت کوئ! ❁ د تفسير اوريدو، بيانولو حلقه لګوئ يا پهٔ هغې کښې شرکت کوئ! ❁ د سحر د نمونځ د پاره راپاڅول کوئ! ❁ پهٔ مدرسة المدينه بالغان کښې لوستل يا سبق ښودل کوئ! ❁ د عاشقانِ رسول سره پهٔ مدني قافلو کښې سفر کوئ! د دې پهٔ برکت به مو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د عِلمِ دِين د زده کولو، د سُنَّتو د زده کولو، پهٔ دې باندې د عمل کولو او نورو ته د نيکۍ د دعوت ورکولو سعادت نصيب کيږي- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- راځئ چې پهٔ قافلو کښې د سفر يو مدني سپرلے واورو:

## د باغ ځانګو

د حيدر آباد پهٔ يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو- پهٔ بيان کښې پهٔ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغهٔ پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو- د قافلې پهٔ روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هُغه ځلمے وفات شو- پهٔ کور والؤ کښې يو ګس هغهٔ پهٔ خوب

کښې پۀ داسې حالت کښې ولیدو چې هغه پۀ یو شین باغ کښې ډېر خوشحاله دے او پۀ ځانګو کښې ځانګې- خوب لیدونکې ترینه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هُغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے یم، الله پاک ډېر ګرم فرمائیلے دے، زما مور ته ووایه چې زما غم نه کوي، زۀ دلته ډېر پۀ سکون کښې یم-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ اُمت باندې د نبي حقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! نننۍ شپه د بختونو شپه ده ❀ نن زمونږه د قِسمتونو د ځلیدو شپه ده ❀ د الله پاک د رحمت د راتلو شپه ده ❀ زمونږه ګنهګارانو، خطا کارانو د بخت رابیداریدو شپه ده ❀ د شافعِ محشرد تشریف د راوړلو شپه ده ❀ د اُمت د غمخوار د جلوې فرمائیلو شپه ده ❀ نننۍ شپه د هُغه نبي د راتللو شپه ده---!! چې

ایمان ملا اُن کے صدقے قرآن ملا اُن کے صدقے
رحمٰن ملا اُن کے صدقے وہ کیا ہے جو ہم نے پایا نہیں

د چا پۀ برکت چې زمونږه هر څۀ نصیب شو راځئ چې د هغوئي د حقونو د ادا کولو کوشش وکړو ❀ د دُنیا د هر څیز نه زیات د هغوئي سره محبت وکړو ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادب او احترام وکړو ❀ هغوئي د الله پاک د ټولو نه اخري نبي اومنو ❀ د هغوئي د اصحابو او د اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم سره محبت وکړو ❀ د هغوئي د دښمنانانو نه بیزاره شو ❀ د هغوئي تابعداري او فرمانبرداري وکړو ❀ د هغوئي پۀ بارګاه کښې ښۀ ډېر درود او سلام پیش کړو-

نور مونږ له پکار دي چې د هغه خوږ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د زړۀ د کومي نه محبت وکړو، د هغوئي پۀ سُنَّتو باندې عمل وکړو، داسې ژوند تير کړو لکه څنګه چې رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تير کړے ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپل مخ مبارک باندې ګيره پريښودې وه، مونږ له هم پکار دي چې خپل مخونه پۀ ګيرو باندې ښائسته کړو ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به سپينې جامې خوښولې، مونږ له هم پکار دي چې د سُنَّتو ډکې جامې واغوندو ❁ هغوئي به عمامه پۀ سر کوله، مونږ له هم پکار دي چې د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې سُنَّت باندې عمل وکړو ❁ رسولِ هاشمي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اکثر زلفي ساتلې، نو مونږ له هم پکار دي چې زلفې وساتو ❁ د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مسواک ډېر زيات خوښ وو، عام طور به يې د اوداسۀ نه مخکښې، کور ته د تللو، د شپې د اودۀ کيدو نه مخکښې مسواک کولو، تر دې پورې چې پۀ خپل اخري وخت کښې يې هم حضرت عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهَا ته د مسواک کولو خواهش وفرمائيلو، مونږ له هم پکار دي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې سُنَّت باندې عمل وکړو او د مسواک کولو عادت جوړ کړو۔

سنّت کی طرف لوگو تم کیوں نہیں آجاتے | کیوں سرِد گناہوں کا بازار نہیں ہوتا
سرکار کا عاشق بھی کیا داڑھی منڈاتا ہے | کیوں عشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جشنِ ولادت پۀ خوشحالۍ کښې روژه ونيسئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د خپل آقا، کريم آقا، رحيم آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا ادا کړئ او د جشنِ ولادت پۀ خوشحالۍ کښې روژه هم ونيسئ۔

ياد ساتئ چې دا نفلي روژه ده، څوک يې چې نيولے شي، طبيعت يې ښهٔ وي نو روژه ورله نيول پکار ده- **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د ثواب پهٔ اُميد يوه ورځ نفلي روژه ونيوله، اللّٰه پاک به هغه د دوزخ نه 40 کاله (د مزل برابر) لرې کړي- [1] د معجمِ کبير پهٔ روايت کښې دي: چا چې يوه نفلي روژه ونيوله، د هغهٔ د پاره به پهٔ جنَّت کښې يوه ونه نالولے شي د کومې ميوه چې به د انار نه وړه او منې نه غټه وي، هغه به د شاتو پهٔ شان خوږه او د ښکلي خوند والا وي، اللّٰه پاک به د قيامت پهٔ ورځ پهٔ روژه نيوونکي د دغې ونې ميوه خوري- [2]

## د ميلاد پهٔ جلوس کښې شرکت وکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ ته اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د ميلاد پهٔ جلوس کښې هم ښهٔ پهٔ شوق او ذوق سره شرکت کول پکار دي ❁ د ميلاد پهٔ جلوس کښې دې د ګاډي/موټر سائيکل/ پيدل پهٔ هر انداز کښې د پوره تيارۍ سره شرکت وکړے شي ❁ د ميلاد پهٔ جلوس کښې دې د نظم و ضبط پوره خيال وساتلے شي! ❁ د ميلاد پهٔ جلوس کښې نعتونه او نعرې هم هُغه وچلوئ کومې چې د پاکستان مشاورت آفس/ د صوبائي آفس نه جاري کړے شوې وي ❁ د ميلاد پهٔ جلوس کښې دې د هر يونين کونسل/وارډ/ټاؤن نګران او د مختلفو شعبو ذمه داران دې خپلې بيلې بيلې بينرې جوړې کړي پهٔ کومو چې د يونين کونسل/وارډ/ټاؤن نوم ليکلے شوے وي ❁ د 12 ربيع الاول پهٔ ورځ د ماسپښين د نمونځ نه تر د مازيګر پورې دې د ميلاد پهٔ جلوس کښې ټول ذمه داران او د شعبه جاتو والا د **مرحبا يا مصطفٰے** نعرې وهي او د اول نه تر اخره پورې دې شرکت وکړي ❁ د شعبې دوه اِسلامي ورونه دې د خپلې شعبې بينر ونيسي او مخکښې مخکښې دې ځي، د دغې شعبې باقي اِسلامي ورونه دې پهٔ هغوئي پسې شاته شاته ښکته سرونه، مدني جنډې پهٔ لاس کښې

---

1... جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:190، حديث:22251-

2... معجم کبير، جلد:8، صفحه:71، حديث:15323-

اونيسي او پهٔ شونډو دې نعتونه وائي او ډېر پهٔ پر وقار انداز کښې دې شرکت وکړي۔

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د مختلفو ايپلي کيشنز تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پهٔ ذريعه هم د نيکۍ پهٔ دعوت عام کولو کښې مصروف دے۔ د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا اوسه پورې ډېر موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي: **(1):** تفسير صِرَاطُ الـجنان موبائل ايپلي کيشن: د قرآنِ کريم د لوستلو، پهٔ دې باندې د ځان پوهه کولو او د قرآنِ کريم د فيضان حاصلولو د پاره يو ښکلے او ځانګړے ايپلي کيشن دے۔ د دې پهٔ ذريعه قرآنِ پاک د ترجمې او د تفسير سره لوستلے او د قرآنِ کريم پهٔ نُور باندې خپله سينه روښانه کولے شئ۔ **(2):** فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن: ډېر ښکلے ايپلي کيشن دے، د دې پهٔ ذريعه تاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حديثونه او د هغې شرح لوستلے شئ۔ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْکٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❁ الأربَعِيْنَ النّوويَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي۔ ❁ د دې ايپلي کيشن پهٔ مدد سره تاسو حديثونه مبارک پهٔ کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو پهٔ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پهٔ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ، پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د سرچ آپشن [يعني د لټولو آپشن] پهٔ مرسته حديثونه مبارک او د هغې شرح لټولے کيدے شي۔ **(1):** بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن: د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه دِيني مسئلې لوستلے کيدے او زده کيدے شي۔

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# يو څو ضروري اعلانات

۞ د هر اتوار په شپه امیرِ اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مدني چینل باندې لائيو هفته واره مدني مذاکره فرمائي، سبا شپه به د ماسخوتن د نمونځ نه پس په مدني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هفته واره مدني مذاکره کیږي، په کومه کښې به چې شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سنت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذمه داران او عاشقانِ رسول په دې مدني مذاکره کښې ځپله هم شرکت اوکړئ او نورو ته هم د دې دعوت ورکړئ-

۞ د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د ماشومتوب نه واخله تر اعلانِ نبوت پورې ډېر اهم واقعات ۞ د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د ژوند مبارک ځلیدونکي اړخونه ۞ بې شمیره معجزات ۞ والدینِ کریمین ۞ ازواجِ مطهرات ۞ اولادِ اطهار ۞ د جلیل القدر صحابه او صحابیاتو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ایمان تازه کوونکي تذکرې- د دې ټولو د پوهیدلو د پاره مطالعه کړئ، د مکتبةُ المدینه کتاب **سیرتِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم- د دې کتاب عامه هدیه **1120** روپۍ ده خو د **1500 کلن یومِ جشنِ ولادت** په اسپیشل میګا ډسکاؤنټ آفر باندې تاسو دا کتاب په **952** روپۍ طلب کولے شئ! ځپله یې هم اولولئ! او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي

دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بریتونه کټ کړئ او ګیرې غټې کړئ د مجوسیانو مخالفت وکړئ! (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبیا دي ❀ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه به همیشه د یو موټي پۀ مقدار وه ❀ که د یو موټي نه به غټه شوه نو وړه کوله به یې۔ ❀ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه پۀ پلن والي کښې داسې وه چې سینه مبارکه به یې ډکوله۔ (3)

❀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ګیره خَریل او بریت غټول بیخي نه خوښول ❀ پۀ بهارِ شریت کښې دي چې ګیره خریل یا د یو موټي نه کمول حرام دي۔ (4)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د بهارِ شریعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...مسلم، کتابُ الطهارت، باب: خِصَالُ الْفِطْرَة، صفحه:153، حدیث:257۔

3...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه:157 خلاصةً۔

4...بهارِ شریعت، حصه:16، جلد:2، صفحه:586۔

او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 **سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد